د ستراوځواکمن ښتن تعالی په سپيڅلي نامه

# Logar

# لوګر

میاشتنۍ خپرونه

دلوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

شنبه د۱۳۹۴ کال دزمري میاشتې اولسمه د ۲۰۱۵ عیسوي کال داګیست اتمه | (۱) | پرله پسې ګڼه (۷۱) | لومړی کال دریمه ګڼه

### نبوي ملرغلرې

هغه چاته هیڅکله منصب مه ورکوئ چې پخپله یې غوښتنه کوی اویایې تمه لري.(بخاری اومسلم)

دهیڅ انسان په زړه کې دوه څیزونه نه یوځای کیږي. ایمان اوحسد (الحدیث)

## جمهور رئیس غني د لوګر ولایت د وروستۍ پېښې د شهیدانو وارثانو ته خپله ژوره خواخوږي څرګنده کړه

کابل باختر دزمري ځلورمه:

د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس محمد اشرف غني د لوګر ولایت د بره کي برک په ولسوالۍ کې د نړیوالو ځواکونو د هوایي برید له امله د ملي اردو د شهیدو منسوبانو له وارثانو سره وکتل. د جمهور رییس دویاند دفتر باخترآژانس ته خبرورکړ. په دغه کتنه کې چې نن له غرمې وروسته په ارګ کې ترسره شوه، جمهور رئیس غني یو ځل بیا د شهیدانو وارثانو ته د خپلې ژورې خواخوږۍ او ډاډګیرنې مراتب څرګند کړل.

په دې کتنه کې چې په دغه هوایي برید کې ټپي شوي سرتیري هم حاضرؤ، لومړي موظف شوي پلاوي چې د دغې پېښې د څېړنې په موخه د لوګر ولایت ته استول شوی و، د خپلو موندنو رپوټ جمهور رئیس ته وړاندې کړ. جمهور رئیس محمد اشرف غني د لوی خدای له درباره څخه د دغې پېښې شهیدانو ته د فردوس جنت، ټپیانو ته د سملاسي روغتیا او د شهیدانو کورنیو ته د جمیل صبر هیله وکړه. جمهور رئیس غني وویل: چې د هېواد د امنیتي او دفاعي ځواکونو کړنې د افغانستان د خلکو، سیمې او نړۍ له خوا ستایل شوې دي. جمهور رئیس غني وویل چې امریکایي چارواکي د لوګر ولایت د وروستۍ پېښې د رامنځته کېدو له امله اندېښمن دي او په دې اړه یې خواشیني څرګنده کړې ده. جمهور رئیس محمد اشرف غني څرګنده کړه، چې د امریکا د متحده ایالاتو جمهور رئیس بارک اوباما له ده سره په وروستي ویدیو کنفرانس کې د هېواد د امنیتي او دفاعي ځواکونو مېړانه او زړورتیا وستایله.

جمهور رئیس غني زیاته کړه چې زموږ د امنیتي او دفاعي ځواکونو قربانۍ نه هېریدونکې دي او د هغوی په سیمو کې به مهم ځایونه د دوی په نومونو ونومول شي او د اوږد مهال لپاره به د حکومت له خوا د هغوی کورنۍ او وارثان وپالل شي. جمهور رئیس د ملي دفاع وزارت چارواکو ته لارښوونه وکړه، چې د دغه هوایي برید د ټپیانو په درملنه کې له ټولو شته امکاناتو څخه کار واخلي.



جمهور رئیس غني وویل: چې د دا ډول پېښو د مخنیوي لپاره باید د افغانستان د امنیتي ځواکونو او نړیوالو ځواکونو ترمنځ لا ډېره همغږي رامنځته شي. ده څرګنده کړه چې د دغې پېښې شهیدانو او ټپیانو ته یې په فوق العاده ډول یوه یوه رتبه منظور کړې ده او حکومت د خصوصي سکټور په ملاتړ د داسې یو بنسټ په جوړېدو بوخت دی چې د شهیدانو د بچیانو لپاره د تعلیم او د هغوی کورنیو ته په دوامدار ډول د مرستې زمینه برابره کړي. د دغې کتنې په پای کې د ملي دفاع وزارت د رهبرۍ پلاوي له خوا د شهیدانو وارثانو او د پېښې ټپیانو ته نغدي مرستې ورکړل شوې.

ازدواج وخشونت درخانوادها درصفحه ۳

## علمای دین درولایت لوگرصلح را ازنیازهای اساسی افغان ها دانست

دریک گردهمایی وسیع علمای دین تامین صلح وحل مشکلات کنونی کشوررا وجیبه اساسی عالمان دین دانسته ووعده سپردند که دراین راستای تلاش های شان را بخرچ خواهندداد.



این گردهمایی به تاریخ اول اسد ،در تالار کنفرانس ریاست اطلاعات وفرهنگ ولایت لوگربرگزارگردیده

بود که درآن دها تن عالمان دین، روحانیون ومسولین برخی از ادارت دولتی حضوربه هم رسانیده وپیرامون حل مشکلات وچالش های فرا راه مردم مان صبحت های همه جانبه نمودند.

ابتدا آیات چند از کلام الله مجید قرائت متعاقباً مولوی الف خان پیرامون موضوع صحبت های همه جانبه نمود، حل مشکلات فعلی کشور را یکی از مسولیت های سنگین عالمان دین با در نظرداشت احکام شرعیت خواند وگفت که باید علمای دینی در از بین بردن مشکلات موجوده وطن مسولیت ایمانی و وجدانی خویش را ادا نمایند تا باشد یک صلح وآرامش سرتاسری در کشور برقرار گردد.

سپس مولوی امیرجان خطیب مسجد جامع شهر پل علم به نوبه خود دررابطه صحبت نمود وافزود که اگر همه امورات نظر به احکام قرآن عظیم الشان انجام شود مشکلات روان در کشور به زود ترین فرصت حل خواهدشد وی باتاکید ازروشنای دین مبین اسلام، وحدت ویک پارچگی را درازبین بردن اختلافات وبی باوری ها شرط اساسی خواند وافزود که دین اسلام صلح راخیروفلاح برای انسان ها قلمدادنموده است. ...

بقیه درصفحه دوم

### سرلیکنه

## لوګردپوهنتون په لور

دلوګرپوهنتون ته دتدریسي او دزده کړیالانو لپاره د شپې غالي ودانۍ جوړولو کار؛ دلوړزده کړو وزیرې لخوا رسماً پرانیستل شو، چې ددې ستراکادمیک مرکزپرانیسته لوګریو ته دښووني اوروزنې په ډګرکې لوی ویاړ اوښه زیرې دی.

دلوګرپوهنتون ساختماني چارې باید درې کاله مخکې پیل شوې وې، خو دځینو ستونزو له امله ددې ښوونیز مرکز د جوړیدو کاریې په ټپه ودریدل. دلوګر ولس او د لوګروالو په غوښتنه اولاهڅو دترسره کولو، چې لوګر باید ژرترژره د پوهنتون څښتن وي، نو دوی وکړای شول، چې د نوموړې مرکر ساختماني چارې پیل کړي.

لوګرولایت چې د پوهې زانګوده، دولت باید له دې مخکې دغه علمي مرکز په پرانیسته کې هلې ځلې کړې واي، ځکه د علم په کورکې دداسې سترعلمي او اکاډمیک مرکزپرانیسته اړینه ده، چې په دې لار کې اړونده اداري کوټلي ګامونه اخیستې وای اودیادمرکز روزونکي؛ ټولنې ته دښه خدمت او څنګه چې دولت متخصص او پوه کسانو ته اړتیا لري، په دولتي چوکاټ کې په کارګمارلي واي.

بیاهم دشکرځای ده، چې دلوګرمحصلین دزیاتو اقتصادي ستونزو په درلودو خپلې زده کړې دهیواد په لروپرتو سیمو کې ترسره کړیدي . دلوګرپوهنتون په جوړیدو اودلوړو زده کړو وزارت دزیاتو پوهنځیو دتشکیل ورکړه، لوګرهغه محصلینو ته به داروحیه ورکړي، چې زده کړې یې نیمګړې دي، خپلې زده کړې لوړې کړي.

ددې لپاره، چې لوګرپوهنتون په پښو ودریږي، دلوړو زده کړو وزارت د تدریسي او اداري تشکیل په زیادت او اکادمیک متخصصین په ورکړه، همدارنګه محصلینو ته دښه آسانتیاوو په برابرولو کې لازم اقدام ترسره کړي. ځکه د نورو ولایتونو محصلین هم دکانکورله لارې یاد پوهنتون ته بریالي اوخپل زده کړې کوي. نو باید چې دهیواد دلروپرتوسیمو محصلین داسې دعلم په ګاڼه سمبال شي، چې دوی دباب العلم ثمره دهیواد په ټولوولایتونوکې لاښه وځلوي اوهم ددندو په اخیستو په اداري کارونوکې سمون اوبدلون راولي.

لوګري ولس ته او سمهال په کار ده، چې خپل بچیان تعلیم لورې ته وهڅوي، زده کړې پرې وکړي او همدارنګه لوړې زده کړې ته یې تشویق کړي، ځکه اوس لوګرد پوهنتون درلودونکی شو، چې دې سره به دلوګرولایت د پوهې، اقتصاد او فرهنګ کچه نورهم لوړه شي.

اداره

## دلوګرپوهنتون دښووني اوروزنې پوهنځي او دشپې غالي دودانیو دجوړولو چارې پیل شوې



دلوګرد پوهنتون دښووني او روزنې او دشپې غالي ودانیو ډبره دزمري په ۴ مه دمرکزپل علم اړوند دشیروازې په سیمه کې کیښودل شوه، هغه غونډه چې په همدې مناسبت دلوګرپه مقام کې جوړه شوې وه، دلوړوزده کړو وزیرې آغلې پوهنوال ډاکټرفریده مومند، لوګروالي محمد حلیم فدایي، دلوړو زده کړو وزارت دمالي او اداري چارو مرستیال ډاکټرګل حسن ولیزي، دمشرانو جرګې دویم مرستیال ډاکټرمحمد آصف صدیقي، په ولسي جرګه کې دلوګردخلکو استازې، دولایتي شورا رئیس او غړي یې، دلوګردولایت سرتاسري شورا رئیس پوهنیار حمید الله فاروقي، دولسمشر سلاکار اسدالله فلاح د دولتي ادارو رئیسانو اودلوګرقومي مشرانو په کې ګډون کړې ؤ. ...

پاتې په ۲مخ کې

**د تندرستي او روغتیا لپاره بل شی دومره زیان نه لري، لکه چې په یوه غذا بله غذا ورزیاته شي.**